# حالات

نه شبنم په گلو اوری
نه بلبل گلان ته گوری
نه د یا ر د زلفو مشک
په مشام کی می خپوری
**

نه گودر کی بند اره دي
نه دپیغلو گرم میله دي
نه منگي نه منگوټی
نه د سترگو ا شاره دي
**

نه نخري نه ادا گا ني
نه آهنگ د پا ولي گا ني
نه خما ر خما ر کتل
نه په مخ خوری زلفا ني
**

نه سا قی نه پیما نه
نه مطرب نه ترانه
نه ساغردچا په لاس کی
نه کوثر نه میخا نه
**

نه پیغام ریبار په لاس کي
نه هم مینه په احسا س کي
نه حسرت د دید نونه
با زاری مینه احسا س کی
**

نه هغه مینه او مجبت
نه هغه نا ز او نزاکت
نه یوبل نه جاریدل

نه هغه تود گرم صمیمت
**
مینه تول بازاری شو
په پیسو مینه یاری شو
قصی هیر شو د فرهاد
په یاری کی تېگماری شو
**
نه غمخور څوک د وطن شو
نه ملیار د باغ او بڼ شو
نه چا لاس پریتیم کش کړ
نه سالار څوک د میهن شو
**
پرونی ملا وزیر شو
غل ، رهزن ریس مدیر شو
وطنپال تول خوار ابتر شو
پرسپک سرو لوی اختر شو
**
څوک اشرار څوک فاسد شو
څوک مزدور څوک حاسد شو
څوک د چا په غلامی کي
په پیسو ناحق شاهد شو
**
چا په ږیره ځان سمبال کړ
چا پرغاړه برگ د ستمال کړ
چا ځان یاد کړ مجاهد
د افغان وطن پایمال کړ
**
ها چي پوه وه فراری شو
به پردو ملک په خواری شو

ورور له ورور خور له خوره
په واتونو جدایی شو
**
تر پرونه چي توک خور وه
بیکا ره پروت پخبل کور وه
په سړی نه شمبرید له
نن صا حب د زر او زور شو
**
دا همغه راکټ چی دي
لا تر اوسه غټ وحشی دي
په جا مو یی مه غولیږي
سعودی غټ وها بی دي
**
نه فرهنګ یی ا فغا نی دي
نه طلعت یی ا نسا نی دي
غټ جا سوس د پرد یو
سکه ورور د پنجا بی دي
**
پل پلچک دا فغا ن یی وران کړ
کرغیړن مخ خپل عیا ن کړ
پرونی غل داړه ما ر
خپل ګناه خلک ته بیا ن کړ
**
وطنوالو دا مو حا ل دي
هره ورځ جګړه هرکا ل دي
وړی تږي اولسو نه
په نړی کی بی مثا ل دي
**
وطنوالو څه ته ګوریي

ولی زر له ځای نه ښوریږي
حقیقت له ما (مل) واوریږی
څه دپاره نا ست په کور یی
**

خپل صفونه برابر کړی
له جها نه ځا ن خبر کړي
یوه موټی او قوت شي
پردښمن خاوری پرسرکړي
****

**پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل)**
**جرمنی ( 12-12-2017 )**

# کا ږی

روان حالات وطن بیدیا ته کا ږي
څیری ګریوان افغان صحرا ته کا ږي
بدی اوفسا د اوس په فرهنګ اغوښتي
وطن له سمی بلی خواته کا ږي
د مفسدا نو با زار ګرم وینمه
منصف افغا ن ، سا رقا ن شا ته کا ږي
پر مقا مونو د ا شرا رو جنګ دي
وضیعت د خلکو کربالا ته کا ږي
ملا وزیر اشرار حا کم شوی دي
غم اواندوه خلک ژړا ته کا ږي
د ګدا یا نو ډ لی ډ لی ښا ر کي
له مجبوریت خلک غلا ته کاږي
څه چي ناپوه دی تول واکدار دی دلته
له تعجبه (مل) خندا ته کا ږي
****